پکتیا
اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

هیله بخښونکي خبرونه!

۱۳۸ مه گڼه • پنجشنبه • د وری ۱۳ مه • د ۱۳۹۹ کال


# د کلیو بیـــارغونې او پراختیـــا وزارت په وروستیو اوربښتونو کې زیانمنو شویو کورنیو ته د مرستې لړۍ پیل کړې ده




۹

## په پکتیا ولایت کې د اقرا پروژې تر سیوري لاندې ۱۰۳ ښوونځي جوړېږي




٤

## په تخار کې د ۱۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۶.۳ کیلو متره سړک جوړولو کار بشپړ شو



۳

## په غور کې د ۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۵ کیلومتره سړک جوړ شو



۲

## په کابل کې د اوبو لگولو د کانال ۳ پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې



٤

# کار ساخت چهار باب مکتب در کشور طی هفته‌ی گذشته تکمیل شده و کار دو مکتب دیگر رو به اکمال است

۱۳ سنبله ۱۳۹۹

کار ساخت چهار باب مکتب زیر چتر پروژه‌ی اقرای برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در ولسوالی چک ولایت میدان وردگ، ولسوالی دشت ارچی ولایت کندز و ولسوالی‌های کرخ و ادرسکن ولایت هرات تکمیل شده و کار دو مکتب دیگر در ولسوالی پنجوایی ولایت کندهار و ولسوالی کوزکنر ولایت ننگرهار به زودی تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

این مکاتب دارای ۸ یا ۶ صنف درسی، تشناب و چاه‌های آب آشامیدنی بوده و در جریان اعمار آن‌ها بیش از ۱۴ هزار روز کاری برای کارگران فنی و غیر فنی ایجاد شده است.

گفتنی است که با ساخت مکاتب تکمیل شده برای ۸۰۹ دانش آموز زمینه‌ی فراگیری علم و دانش در فضای سالم و مناسب درسی فراهم آمده و ۶۴۰ دانش آموز نیز از مزایای مکاتب در حال اعمار، مستفید خواهند شد.

علاوه بر این‌ها، کار ساخت هفت مبرز عصری از سوی برنامه‌ی ملی آبرسانی و حفظ‌الصحه روستایی وزارت احیا و انکشاف دهات در لیسه بنوزی ولایت پکتیا که ۷۵۰ دانش آموز در آن مصروف تعلیم اند، نیز در هفته‌ی گذشته تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.





# په غور کې د ۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۵ کیلو متره سړک جوړ شو

٦/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د غور ولایت د لعل او سرجنګل ولسوالۍ له خوال سیمې تر سیاه چشمه ( بکک کوتل) پورې د ۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۵ کیلو متره سړک کریږولو کار بشپړ شو او ګټه اخیستنې ته وسپارل شو.

دا سړک ۹ متره پلنوالی لري او په جوړیدو به یې تر ډیره د سیمې د اوسیدونکو ټرانسپورتي ستونزې هوارې شي.

باید ووایو چې دا سړک د هغې ۸۹ کیلو متره سړک پاتې برخه ده چې تر دې مخکې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري د غور ولایت له دولتیار ولسوالۍ څخه د سرجنګل د ناوې تر پایه بشپړ شوی و او په جوړیدو سره یې د سرجنګل د ناوې له لارې دولتیار ولسوالي نیغ په نیغه د بامیان ولایت له یکاولنګ ولسوالۍ سره تړل شوې ده.



## په خوست کې د سړک د جوړولو د پروژې کار روان دی



۸ / وږی / ۱۳۹۹

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د خوست ولایت د مندوزیو ولسوالي په بیلابیلو کلیو کې د نږدې ۶۵ میلیون افغانیو په ارزښت د ۶.۳ کیلومترو په اوږدوالي پاخه سړک د جوړولو د پروژې کار ۶۰ سلنه مخ ته تللی دی.

د دغې پروژې په ترځ کې ۹۴۸۷ کاري ورځې رامنځته کیږي چې په بشپړیدو به یې د سیمې ۱۳۲۴۳ اوسیدونکي له دغې پروژې ګټه پورته کړي.

د یادونې وړ ده چې دغه پروژه به د سیمې بیلابیل کلي یو له بل سره ونښلوي او د ځایي اوسیدونکو د تګ او راتګ په لار کې به ګڼې آسانتیاوې رامنځته کړي.

## په تخار کې د ۱۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۶.۳ کیلو متره سړک جوړولو کار بشپړ شو



۸/ وږی/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړونې ملي پروګرام له لوري د تخار ولایت د فرخار ولسوالی له چشمه ګرمک څخه تر ده یک کلي پورې د ۱۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۶.۳ کیلو متره سړک جوړولو کار بشپړ شو.

۱۵ پلچکونه، ۳۶۵ متره استنادي دیوال او د ۲۱۰ مترو په اوږدوالي ۴ واشونه هم ددې پروژې برخه ده او په جوړیدو سره یې چشمه ګرمک او ده یک کلي د فرخار ولسوالی له مرکز سره تړل شوي.

یاده دې وي چې ددې پروژې په ترځ کې ۱۱۳۸۹ کاري ورځې رامنځ ته شوي او په بشپړیدو سره یې ۵۰۰ کورنۍ له ګټو برخمنې شوې دي.

## په بادغیس کې د ۱۳.۸ میلیونه ډالرو په ارزښت د قادس د ذخیروي بند د جوړولو چارې روانې دي



۱۱ وږی ۱۳۹۹

د کلیو دبیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ‌الصحې د پروګرام له لوري د بادغیس ولایت د قادس ولسوالۍ اړوند په قادر آباد سیمه کې، د قادس خوردک د ذخیروي بند، د جوړولو چارې روانې دي.

د قادس د بند جوړولو پروژه په بادغیس ولایت کې یوه مهمه او حیاتي پروژه ده چې موخه یې په قادس ولسوالۍ کې د ځمکې لاندې اوبو (لکه کاریزونو او چینو) او د قلعه‌ی نو ښار د اوبو رسولو د شبکې د سرچینو (ځاه ګانو) پیاوړي کول ـ چې په قلعه‌ی نو ښار کې د (۶۵۰۰۰) کسانو لپاره د څښاک اوبه برابروي ـ د (۱۴۰۰) هېکتاره کرنیزې ځمکې خړوبول، د ځایي اوسیدونکو لپاره د کاري فرصتونو ایجادول او د کرنې او باغونو له طریقه د ځایي خلکو اقتصادي پیاوړتیا ده.



# په پکتیا ولایت کې د اقرا پروژې تر سیوري لاندې ۱۰۳ ښوونځي جوړیږي

۱۲ وری ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا سرپرست وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي د سه شنبې (۱۱ وری) پر ورځ له غرمې وروسته د پکتیا له والي محمد حلیم فدایي سره په خپل کاري دفتر کې د یاد ولایت د خلکو د ستونزو او غوښتنو د اوریدو په موخه ولیدل او خبرې اترې یې وکړې.

په دې لیدنه کې ښاغلي فدایي په پکتیا ولایت کې د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت د پروژو له تطبیق څخه خوښي څرګنده کړه او د ستونزو او غوښتنو په لړ کې یې د ښوونځیو کمښت د یاد ولایت د له مهمو ستونزو څخه وباله،له ښاغلي کریمي څخه یې وغوښتل چې په پکتیا ولایت کې دې د پرمختیایي پروژو د تطبیق په برخه کې د خلکو اړتیاوې او لومړیتوبونه په نظر کې ونیسي.

په همدې ترڅ کې پوهندوی مجیب الرحمن کریمي وویل چې د کلیو بیارغونې اوپراختیا وزارت د خپلې پرمختیایي پالیسۍ او کړنلارې سره سم ډېری پرمختیایي پروژې د خلکو د غوښتنو پر بنسټ پلي کوي، او هغه پروژې هم چې په پکتیا ولایت کې د اوبه خور، اوبو رسونې، سړک جوړونې او نورو سکتورونو په برخه کې پلي کیږي، د خلکو د اړتیاو له مخې پلي کیږي. د کلیو بیارغونې او پراختیا سرپرست وزیرهمداراز وویل:د پکتیا ولایت لپاره د کلیو بیارغونې اوپراختیاوزارت د ولسي تړون داقرا پروژې تر سیوري لاندې د۱۰۳ ښوونځي په پام کې دي چې ددې ښوونځیو په جوړیدو سره به د پکتیا ولایت د زده کوونکو لپاره د زده کړې ور چاپیریال رامنځته شي.

# په کابل کې د اوبو لګولو د کانال ۳ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

۱۱ / وری / ۱۳۹۹

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري په کابل ولایت د میر بچه کوټ ولسوالي په خروټو کلي کې د نږدې ۱۰ میلیون افغانیو په ارزښت د ۹۱۶ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو د کانال او سوپر پسیج ۳ پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د دغو پروژو په ترڅ کې چې د IFAD په اډانه کې تمویل شوې ۴۸۹۲ کاري ورځې رامنځته شوې او د سیمې ۳۵۰۰ اوسیدونکي له دغو پروژو ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې دغو پروژو د سیمې ۵۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه او ګڼ شمیر باغونه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راوستي دي.





## په بغلان کې د ۳۵ کیلوواټه د اوبو دبریښنا د شبکې کاروان دی

۱۱ وری ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د بغلان ولایت د پل حصار ولسوالی په دشتک کلي کې د ۴.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۵ کیلو واټو په کچه د اوبو د بریښنا د یوې کوچنۍ شبکې کار روان دی.

د دې شبکې په بشپړتیا سره به ۱۶۳ کورنۍ بریښنا ته لاسرسی پیدا کړي.

## په ننګرهار کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱۰۵ متره محافظوي دېوال د جوړېدو چارې رواني دي

۱۳۹۹/ وری/۱۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت اړوند د ولسي تړون ملي پروګرام له لارې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالی د ملک سعدالله کلي کلیوالي پراختیایي شورا لپاره دا دیوال منظور شوی و، چې په جوړېدو سره یې د ځایي خلکو ۱۱۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه د موسمي سېلابونو له ګواښ څخه خوندي شوه.

، له دې پروژې ۲۸۹ کورنۍ ګټه اخلي.

د ملک سعدالله شورا لپاره د جوړ شوي محافظوي دېوال په جریان کې د ماهرو او غېر ماهرو کارکوونکیو لپاره ۱۱۵۴۷ کاري ورځې رامنځته شوې و دي.





## په لوګر کې له ۳۵ اړو کورنیو سره د څه باندې ۳۲۰ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۱۳۹۹/وری/۱۰

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانکونو له لوري د لوګرولایت مرکز پل علم کې اړو نه د افضلو خېلو، داګ کلا، دوران خېلو، هوتي سفلا او عالم خېلو پراختیایي شورا ګانو لخوا له ۳۵ اړو کورنیو سره د څه باندې ۳۲۰ زره ا فغانیو په ارزښت د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.

دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې شامله وه، کلیوالو ته وراندې شوې. پدې مرستو کې اوړه، غوړي، چای، بوره، صابون، دال، لوبیا، وریجې، او پوښاک شامل وو.

## په لغمان کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام فعالیتونه جریان لري

۱۳۹۹ – وری - ۱۰

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام تر چتر لاندې د لغمان ولایت په مرکز او قرغه یې ولسوالی کې ۱۵۶۴ سپماګروپونه جوړ شوي، چې ۲۲۶۷۸ کلیوال پکې غړیتوب لري.

یادو ګروپونو د اونیزه غونډو په ترځ کې وکولای شول، چې نږدې ۹۶۹۶۰۵ افغانۍ وسپموي او له خپلو سپماګروپونو څخه د کلیو په کچه د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو د پیل په موخه په بیلا بیلو سکتورونو کې ۳۰۰ ځله پورونه واخلي.



# په کابل ولایت کې د د ۱۱ میلیونه افغانیو په ارزښت داوبو لګولو د کاڼال جوړولو د پروژې کار روان دی

۱۰ / وری / ۱۳۹۹

په کابل ولایت کې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د اوبو لګولو د کاڼال د جوړولو د پروژې کار د بشپړیدو پر لور روان دی.

د دغې پروژې په ترڅ کې د یاد ولایت د ده سبز ولسوالۍ په تره خیلو کلي کې د نږدې ۱۱ میلیون افغانیو په ارزښت د ۱۵۴۹ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو ډبرین او کانکریټي کاڼال په شپږو برخو کې جوړیږي چې دوه برخې یې بشپړې شوي او پر ځلورو نورو برخو یې کار روان دی.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې د IFAD په اډانه کې تمویل شوي ۵۳۳۵ کاري ورځې رامنځته کیږي چې په بشپړیدو به یې د سیمې ۳۵۰۰۰ اوسیدونکي له دغې پروژې ګټه پورته کړي. د یادونې وړ ده چې دغه پروژه به د سیمې ۴۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه او ګڼ شمیر باغونه چې د انګورو ۵۰ زره نیالګي لري د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راولي.



# د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د ځلورو زونونو کارکوونکو لپاره مالي سرچینو ته د لاسرسي په اړه روزنه ورکړل شوه

۱۳۹۹- وری - ۱۰

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د ځلورو زونونو کارکوونکیو ته د پروګرام په مرکزي دفتر کابل کې مالي سرچینو ته د لاس‌رسي په اړه دوه ورځنۍ روزنیز پروګرام تر سره شو.

دکلیوالي اقتصاد د پیاوړتیاملي پروګرام اجرایوي رییسې آغلې لطیفه مجیدي، ګډونوالو ته په‌دې ورکشاپ کې د مالي چارو د پرمخوړلو په تړاو مهمې لارښوونې وکړې او ټینګار یې وکړ؛ چې تاسو باید کلیوالو ته د پروګرام په اړه مثبت انځور وړاندې کړئ.

د مهالیزې وړیا پانګې د لېږد پروسه، په ګرندۍ توګه د دې مرستې د لېږد په برخه کې د اطلاعاتي سیستم MIS نقش، له پور ورکوونکیو موسسو سره د کلیوالي بنسټونو د اړیکو ځرنګوالی، کلیوالي اتحادیو او سپماګروپونو ته د بانکي حسابونو پرانیستل هغه موضوعات وو، چې د دې روزنیز ورکشاپ په لومړۍ ورځ ګډونوالو ته وړاندې شول.

د یادونې وړ ده، چې دا روزنیز ورکشاپ به د پروګرام په مرکزي دفتر کابل کې سبا هم روان وي.



# په ننګرهار کې د ۱.۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۳۰ متره اوږد کرنیز کانال د جوړېدو چارې روانې دي



۱۳۹۹/ وری/ ۱۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ۱.۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالی اروند د اخندزادګانو کلي کلیوالي پراختیایي شورا لپاره د یوه زراعتي کانال، چې ۳۳۰متره اوږدوالی لري د جوړېدو چارې روانې دي، چې په جوړېدو سره یې د ځایي خلکو۲۷۰ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګونې له معیاري سیستم څخه برخمنه شوه.
له دې کانال څخه ۲۵۹ کورنۍ ګټه اخلي، د ماهرو او غیر ماهرو کارکوونکیو لپاره یې ۷۵۹ کاري ورځې هم رامنځته کړې.

# د تشبثاتو د پیاوړتیا په اړه له یو شمېر خصوصي سکتورونو سره د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام رسمي غونډه ترسره شوه

۱۳۹۹- وری -۱۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام او د ښځو د سوداګرۍ خونې، د افغانستان د مالي او بانکدارۍ انستیتوت، DIA، MWIC او د یو شمېر نورو خصوصي بنسټونو ترمنځه رسمي غونډه د پروګرام په مرکزي دفتر کې جوړه شوه؛ چې د تشبثاتو د پیاوړتیا لپاره په افغانستان کې کار کوي.
په دې غونډه کې د پروګرام اجرایوي رییسې آغلې لطیفه مجیدي پخپل ګډون سره برخوالو ته د تشبثاتو د پیاوړتیا په اړه تینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې د هېواد په اقتصادي پراختیا کې د تشبثاتو د سکتور کردار ډېر ارزښت لري.
د غونډې د برخوالو شمېر چې ۹ تنو ته رسېده، د خپلو فعالیتونو په اړه لنډ معلومات وړاندې او د تشبثاتو د څنګېریز ارزښت د پرمختیا په برخه کې یې له پروګرام سره په لویه کچه د خپلو تجربو د شریکولو ژمنه وکړه.
د تشبثاتو د پرمختیا، له بازار سره د اړیکو ټینګولو او د تشبثاتو په سکتور کې د ګډو همکاریو لپاره د فرصتونو د پیدا کولو موضوعات هم په غونډه کې د ګډونوالو له‌خوا تر بحث لاندې راغلل او په اړه یې د نظریاتو تبادله ترسره شوه.
د یادونې وړ ده، چې د پروګرام مشرتابه هییت به د پورتنیو موضوعاتو په تړاو له یادو بنسټونو سره نورې ناستې هم ترسره کړي.



## په کاپیسا کې د ۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳.۰٦ کیلو متره سړک جوړولو کار روان دی



۱۲/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو ملي پروګرام له لوري د ده بابا علي له بازار کهنه خخه د کاپیسا د مرکز تر تاج محمد خیلو کلي پورې د ۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳.۰٦ کیلو متر سړک د کانکریټولو او د اوبو ایستلو د جوړښتونو کار روان دی.

دا پروژه به په ۱۰۵ ورځو کې بشپړه شي او په پلي کیدا سره به یې د ۱۵۰۰ کورنیو ترانسپورتي ستونزې هوارې شي او په اقصادي برخه کې به ګټور بدلونونه تر سترګو شي.

## په سرپل کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې جوړولو کار روان دی



۱۲/ وری/ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له لوري د سرپل ولایت د ګوسفندي ولسوالۍ په ابخور کلي کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې جوړولو کار روان دی چې ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دا شبکه چې په ټوله کې ۱۴.۳۵۳ کیلو متره اوږدوالی لري او په ۳ برخو کې جوړیږي ۵۰ سولري تختې، اوسپنیزه کانکریټي زیرمه، ٦ فشار ماتونکې زیرمې، ۳ د فشار کمولو والونه او ۵۱ نلکې لري.

یاده دې وي چې ددې شبکې کار ۹۸ سلنه مخکې تللی او په بشپړتیا سره به یې ۷۱۵ کورنۍ د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاسرسی پیدا کړي.

## تکمیل کار ساخت ۸٤٦ متر کانال آبیاری به ارزش ۷ میلیون افغانی در کابل



۱۳ سنبله ۱۳۹۹

کار ساخت ۸۴۶ متر کانال آبیاری زراعتی به ارزش نزدیک به ۷ میلیون افغانی از سوی دفتر انسجام برنامه‌های ساحوی وزارت احیا و انکشاف دهات، با حمایت مالی IFAD در روستای کوز ملنگ ولسوالی خاک جبار ولایت کابل تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

با ساخت این کانال ۱۰۰۰ جریب زمین زراعتی تحت پوشش منظم آبیاری قرار گرفته و ۴۰۰۰ تن از باشندگان محل از مزایای آن مستفید شده اند.

گفتنی است در جریان تطبیق پروژه‌ی مذکور، ۳۳۵۰ روز کاری نیز برای کارگران ایجاد شده است.

# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په وروستیو اوربښتونو کې زیانمنو شویو کورنیو ته د مرستې لړۍ پیل کړې ده





۱۳۹۹/ وری/۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په یوولسو ولایتونو( پروان، پنجشیر، کاپیسا، لغمان، ننګرهار، لوګر، میدان وردګو، پکتیا، پکتیکا، کابل او غزني) کې د وروستیو اوربښتونو او سېلابونو په پایله کې زیانمنو شویو کورنیو سره د مرستې لړۍ پیل کړې چې په دې مرستو کې ۲۵۲ ځخه ډېرو کورنیو ته د غیري خوراکي توکو مرستې، چې کمپلې، خېمې، د پخلنځي سامان او نور اړونده توکي په کې شامل دي ویشل شوي، ۱۵ دانې د ځښاک اوبو بیړنۍ ذخیرې جوړې شوې او په هغو ځایونو کې چې د ځښاک اوبو شدیده اړتیا ده د ۵۲ ټانکرونو په واسطه زیانمنو شویو کورنیو ته د ځښاک صحي اوبه رسول کیږي. هغه سړکونو چې د اوربښت له امله ویجاړ شوي او بند پاتې دي، د ۱۳ اسکواتورونو په مټ یې د پرانیستې چارې پیل شوې دي.

د دې ترڅنګ د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له لوري د هغو کانالونو، سړکونو او نورو پرمختیایي پروژو د جوړولو په موخه د تخنیکي سروې چارې هم پیل کړي، چې د اوربښت او سېلابونو په پایله کې تخریب شوې دي.

# جریان کار ساخت یک شبکه‌ی آبرسانی به ارزش ٦ میلیون افغانی در تخار

۱۳ سنبله ۱۳۹۹

کار ساخت یک شبکه‌ی آبرسانی به ارزش ۶ میلیون افغانی از سوی برنامه ملی آبرسانی، آبیاری و حفظالصحه روستایی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای آقبلاق سرایسنگ مرکز ولایت تخار ۷۰ درصد پیش رفته است.

این شبکه دارای ۴۰ تخته سولر، یک ذخیره‌ی آب، ۴.۷۶۹ کیلومتر پایپ، یک واتر پمپ و ۲۱۱ شیر دهن می‌باشد.

گفتنی است که در جریان تطبیق پروژه‌ی مذکور ۳۲۹۴ روز کاری ایجاد شده و با تکمیل آن ۴۲۰ خانواده به آب آشامیدنی صحی دسترسی خواهند یافت.

